M T W T F S  عمر فاروق  DATE:

Behtareen

# چاربیته

## 1. پیژندنه:

چاربیته د نظم یو صنف دے۔ د پښتو اولسي شاعرۍ کښې د ټپې نه بعد چاربیته ډېر مقبول او زړه وړې صنف دے۔ داعظم ډېر زوړ صنف دے۔ چاربیته ډېر خوندور رنګ لري او ددې خپل وزن او اولسي اهنګ دے۔ په چاربیته کښې د نغمې ډېر طاقت پروت دے او پښتو به د رباب، ستار او منګې سره ټپلې کیږي۔ چاربیته هم د ټپې په شان نسل در نسل په پښتنو قام کښې راروانه ده۔

## ۲. د چاربیتې څو غټې غټې نخښې:

دې کښې چستي او رواني ډېره وي۔ ددې سر یعنې مطلع اکثر قسمونو کښې دوه بحر ولو او وزنونو کښې وي۔ څښې چاربیتو کښې د بند آخرې د جوړ مصرعه چې سر سره هم قافیه کولې شي لو دغه مصرعه د مطلعې د دوېمې مصرعې سره هم قافیه کیږي۔ څه چاربیتو کښې د ۶، ۹ او 13 سېلابونو مصرعې هم وي۔

## ۳. د چاربیتې موضوعات:

د چاربیتې خاص مخصوص موضوع نه وي په دې صنف کښې قامي، ملي، وطني او تاریخي واقعات، مذهبي واقعات، زاړه واقعات، داستانونه، د جنګونو قیصې، د اجتماعي حالاتو تمدني رنګ، د عشق

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

و محبت قیصې نیز د ژوند ترجماني او د ژوند د عمر
الواخ اظهار پکښې کولئ شي.

## ۴- د چاربیتې مشهور استاذان:


د چاربیتې مشر لوی
لوی شاعران تیر شوي دي په دغې کښې میرا، توکل،
نور الدین، قمر دین، محمود جي، نور محمد، صالح محمد، محمد ایوب
خان، احمد دین طالب شامل دي. خو د چاربیتې بابا عبدالواحد
ټپلدار ته وئیلې کیږي.

## ۵- لیکلې شوې چاربیتې او دغې شاعران:

قاضي عطاء الله
خپل کتاب د پښتنو تاریخ کښې تاریخي چاربیتې لیکلې دي.
نصر الله خان نصر د نور الدین چاربیتې شائع کړې دي. محمد
حسن ضمیر د ۵۵ عوامي شاعرانو 100 چاربیتې شائع کړې دي.
همیش خلیل صیب د چاربیتې اوسني شاعران او پخواني شاعران په
نوم کتاب لیکلې دی.

## ۶- د چاربیتې ساخت:

چاربیته کښې یکه څنګه چې ئې د
نوم نه ظاهره ده، څلور بیتونه وي. د سر وشعر نه پس درې درې
مصرعې وي او څلورمه مصرعه ئې د سر په وزن وي.



## ۷- د چاربیتې قسمونه:

د چاربیتې ډېر قسمونه دي۔

ځنې چاربیتې د بحر او وزن د قاعدې حواله سره ځېلې وضع بېلوي۔ ځنې د سر او بندونو د ضمیم او ساخت په بنیاد بېلګوټ لري او ځنې چاربیتې د سر ټېکي مطلعې سره د بندونو د تعلق، قافیو او چوړونو د طرز په حساب ځانګړتیا لري۔ ځنې چاربیتې په نومونه ورکړې شوې دي او ځنې ټ نه [?]. دغه قسمونو کښې مونږ سره زنځیرې چاربیته، ستاري چاربیته، د احمد دین طالب چاربیته، ټیمکلی چاربیته، سورة چاربیته وغیره۔

## ۱- زنځیرې چاربیته:

زنځیرې چاربیته کښې یوه لوټه (ټیمه مصرعه) د 7 سیلابونو وي (وکله 8 هم وي) دې پسې بله یوه لوټه وي چې دغه بحر او وزن کښې وي۔ دې دوه لوټو پسې بیا بله پوره مصرعه وي۔ هم دغه وزن کښې وي خو بحر کښې د 14 څپو وي (وکله 15 هم شي) دغه پوره مصرعې پسې بیا بله یوه لوټه وي، دغه پوره مصرعې سره هم قافیه وي۔ دا لوټه په بحر کښې د دغه ولومړنیو لوټو عوضه وي۔

### د زنځیرې چاربیتې نمونه:

(الف) ښکلې شال په سر زما

(ب) ښکلې پېرې کلونه دي

M T W T F S DATE:

ښکلې ښکلې خلک مې وليدل پسې شکلور دے

ښکلې ټينګ ټکور دے (ج)

ښکلې شال زرين لرم

ښکلې سپين جبين لرم

ښکلې لو پېزوان دے په سرو شونډو مقرر زما

ښکلې شال په سر زما (الف)

ښکلي زه لوسه ساتم

ښکلي ونډا سره ساتم

ښکلي د مټرې مې دواړه سرې شونډې لالونه دي

ښکلي پرې ګلونه دي (ب)

ښکلي ليم پاور ګورم

ماته انتظار ګورمه

ښکلې مې اوربل دے الوګل په ورو ګوړو دے

ښکلې ټينګ ټکور دے (ج)

## ۲- ستاري چار بېتي ( رباعي وزن او بحر وال ) :

دي چاربيتو

کښې څه بحره او ستر شان وي ځکه ورته ستاري چاربيته وائي. دا چاربيتي په لومړۍ ~~لومړۍ~~ لومړۍ کښې بحر کښې دي. عمره لومړۍ کښې او سيلابه (خلوم) دروند دے. دا بحر او طرز د رباعي دے. هر سيټ د 7 سيلابونو وي. د بحر د سيمونو د ځه شکل دلوړو لاندو چاربيتو نه جدا دے.

## د ستاري چاربيتي نمونه :

دا د خيبر له کالو مورچې د جنګ لري کا



Scanned with CamScanner

M T W T F S  DATE:

یا د پښتون په قانون — لوړې نه زنګ لري کا

مېچن اوبه او کالمې — زاړه اوزار ورکېږي

ربکاله دېل دبا جې — ستا یکه زار ورکېږي

منګې رباب د حجرې — سره د چنګ لري کا

یا د پښتون په قانون — لوړې نه زنګ لري کا

## ۳- د احمد دین طالب چاربیته :

د احمد دین طالب

چاربیته خاص نوم نه لري - دا چاربیته د بحر د سپټ
لپو جدا او نا ویانه وضع لري یعنې دا دري سبک لولو
سپټ دے او کهر دریم سیلاب دروانډ دے - دو نیلو ئې لپو جدا
انداز جوړه پیسېږي -

### نمونه :

سپین لېښر د دلبر دے سکر تازه
خوګېدار یې بېدار زلفې مار زانګي

سپین رخسار د دلدار یې بهار دي تل
دغه باغ د قراغ دے د زاغ وزغن
په دربار خولیدار ما سردار کړه اول
غم چراغ زړه سوداغ نا وړي چاغ وچمن
زړه بیمار د ګلزار نا قرار یم بلبل
ذور کړه کاغ لقر کلاغ بر دماغ کړي ګکفتن



Scanned with CamScanner

ما لګه مقرر کړه په دروازه
سپین لښکر د دلبر دے سم تازه
ځه پیکار چې دوباره کړي چغار بانګي
خوګ بیدار لیري بیدار زلفي مار زانګي

## ۴- نیمګړې چاربیته:

دا چاربیتې هم واضحه خدوخال لري، سر کښې او بندونو کښې د مصرعو سره نیمې نیمې لګولې لري او هم په دې وجه ورته نیمګړې چاربیته وائي، دا ډول چاربیتې په دوه دوه بندونو او وزنونو کښې هم وي۔

## د نیمګړې چاربیتې نمونه:

خورې ورې دې زلفې په رخسار ښې شي
ورکوې د عطر و نم
بلبل ورپسې تل سر په چغار ښې شي
زړه مې شو قلم قلم
خورې ورې دې زلفې په شمال کړلې نن
خوشبوئي شوه فاش تر قافه
غنچې د باغیچې خزان په شمال کړلې نن
د ښائست دې نه کړي لافه
جرګې د عاشقانو دې پرحال کړلې نن
چې ښکاره شوې له غلافه
قاف مانه د منصور عیسې په دار ښې شي
زړوې مې ستا ستم

M T W T F S    DATE:

## ۵ـ سوره چاربیته:

سوره چاربیته کښې د سم څلور مصرعې وي. جوړه جوړه هم قافیه وي. یو بحر او یو وزن کښې وي. بندونو کښې آخر ته د سم سره د جوړه مصرعې صرف دوه راوړې شي د څه دوه د جوړه مصرعو کښې لو د چاربیتې د سم د وړومبې جوړې سره هم قافیه کړې شي او پله د سم د دویمې جوړې سره هم قافیه کړې شي.

### د سوره چاربیتې نمونه:

د غم عمر مې تېر پسې بې له یاره
یقین نه دے چې مې اوچ د ښکو تم شي
د مرض احوال مې ووایه د بیاره
که زما جانان زما سره همدم شي

سم

د غم عمر مې تر تېره صدی تېر کړو
ژړا سره پېرې سبوا او پښت فکلونه
پېلتانه معاش زما زهر ګنډېږ کړو
دا تلنحي مې نه له خلې څې ږنه نالونه
که عمر څو مې صبر جال له زړه چاپېر کړو
راته غواړې لیلا! ستا زلفې ولونه

بند

په صبح رنګ په دې ژړه نه شم له درباره
له مې سر د عاشقۍ په تېغ قلم شي

جوړه



Scanned with CamScanner

## ۶- کسره بند چاربیته :

کسره بند چاربیته کښې هم سر کښې ځلور مصرعې وي څو د دې بندونو کښې هم ټولې مصرعې جوړه جوړه او کسره کسره سره خپلو کښې هم قافیه وي۔

## د کسره بند چاربیتې نمونه :

(سر)

ور پسې یم لکه باران پکښې
کمرځی غازي افسر زمان پکښې
مینه پتنګ لري د ناره سره
خپرې لمبې د شاالیماره سره

(بند)

خپرې لمبې دے کمر زغار پکښې
راځي د لوڅو د الله کار پکښې
ټول د لوړ یک سره کمر نیسه لګوي
ټول په مورچه کښې د انا میبه لګوي
چا ایښې کوټې په مارتر باندې
بارتي چلیږي په انتهر باندې

(اجوله)

راغلے لمو کره عنبر وه سکان پکښې
ور پسې یم لکه باران پکښې
مومن لګه وعې کفار سره
خپرې لمبې د شاالیماره سره



Scanned with CamScanner

## ۷- دوه کم پنځه چاربېته:

دوه کم پنځي کښې چاربېتې دي چې بندونو کښې ئې دوه مصرعي وي۔ دې مصرعو سره ټول ټیپ هم وي۔

نمونه:

کله وي تیاره، کله وي رڼا کله سپلې پکښې
کله وي ګلې پکښې کله وي یاران

کله وي وربښ، کله په ګلو کښې غنچې وینم
کله بیم یا چې وینم
کله وي ځنګل، کله غنم، کله تیلې پکښې
کله وي ګلې پکښې، کله وي یاران.

## ۸- چاربېته اود چاربېتې د قسمونو حواله:

د ټیکېدار په کتاب چې همېش خلیل صاحب چې کوم لیک کړے دے او ځیني کښې ئې د "د پښتو نځوا ښار و بهار" کتاب ځینې چهمونه دار مسته بېته په حواله کومې چاربېتې او قسمونه بیان کړي دي لو عغه ټولي په لېره بحث کښې شامل دي او بیان کړے شوي

## ۹- د کلام خلاصه:

د ټول کلام خلاصه دا ده چې دا رنګ ده چې چاربېته په اولسي ادب کښې د ټپې نه پس اهم مقام لري۔ په دې کښې د پښتون قوم د ژوند هر اړخ بیان کړے شوے دے او د بو زړه پورې صنف دے۔ ځکه سینه په سینه منتقل شوي ده او وخت په کتابي شکل کښې هم موجود ده۔ نیز د اولسي ادب شان ګڼلې شي

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner